# د افغانستان د پاچا امان الله خان سره (۲۴,۰۵,۱۹۲۸)




**د افغانستان د پاچا را تګ:**

اتاترک سیاسي دوستیانو ته زیاد اهمیت ورکوی. څکه نو چي خارجي د دولت مشران به زموږ ټاټوبي ته راتلل اتاترک به يې په عزت او درناوي کي هيڅ ډول کمی نه کوی.

د افغانستان پخوانی پاچا امان الله خان د ۱۹۲۸ کال د می د میاشتي پر شلمه د ملکې (خانم ثريا) سره يو ځای زموږ ټاټوبي ته راغلی. د پاچا تر را تګ د مخه اتاترک د افغانستان تاريخ او جغرافيه کتلې وه. د هغه وخت عمومي کاتب (حکمت بايور) يې د مؤظف کړی وو چي په دې هکله يو تحقيق برابر کړی. د پخوا څخه د اتاترک دا عادت وو چي يو خارجي د دولت سړی به راتلی. د هغه خارجي هيواد د تاريخ، جغرافيې او اجتماعي حيات به هکله به يې مالومات را ټولول. داسي شيان به يې زده کول چي د هغه خارجي به هم د خپل هيواد به هکله نه ول زده. اتاترک به په دې مالوماتو خپل خارجي مېلمانه حيرانول.

لکه څنګه چي امان الله خان لمړی حکمدار وو چي انقرې ته راتلی نو څکه دې ملاقات ته ډېر اهميت ور کول کېدی. امان الله خان د روسيې له خوا ترکيې ته راتلی. اتاترک، (جنرال فخرالدين التای) د پاچا د مهمانداری لپاره مؤظف کړی وو. د جنرال مېرمن يې د ملکې ثُريا د مهمماندارۍ لپاره ګمارلې وله. (ډګر جنرال ناجي ايلدينيز) او مېرمن يې دوهم مېلمه پالان ول.

زموږ مهمانداران چي د پاچا د استقبال لپاره (سيواس توپول) ته تلل نو صدراعظم (عصمت اينونو) جنرال فخرالدين ته و ويل: که د افغان پاچا حالت مناسب وو؛ اتاترک غواړي چي تا د افغانستان لوی درستيز او اعلی قومندان و ټاکي. فقط جنرال و ويل چي زما حالت مناسب نه دی؛ داسي وظيفه به زه قبوله نه کړم. جنرال د افغانستان قومندان نه سو خو په ۱۹۳۴ کال کی د ايران او افغانستان ترمنځ د سرحد د ټاکلو په خاطر د منځګړي په توګه (موساباد) ته ولاړی. جنرال فخرالدين چي د سرحد په هکله کوم راپور جوړ کړی وو د افغانستان او ايران حکومتونو قبول کړی او تر خپل منځ د قضيې د حل کېدو په خاطر دواړو حکومتونو د ترکيې څخه تشکر وکړی.

د ايزمير کښتئ چي د پاچا د راوستلو لپاره سيواس توپول ته تلله؛ د مهماندارانو په ګروپ، د پروتوکول په مامورينو، په ياورانو،

ترجمانانو، ژورنالیستانو او عکاسانو ډکه وله. د دې کښتۍ سره دوو جنګي بېړیو هم ملګرتیا کوله. روسانو په شاندارو مراسمو سره سیواس توپول ته راغلي ترکان استقبال کړل. حتا په استقبال کونکو کي د روسانو د ترکیې سفیر کاراهان او زموږ سفیر (توفق بیک اوغلو) هم موجود ول. د شپې له خوا د اُردو په قرارګاه کي غټه مېلمستیا جوړه سوله. په سبا مو پاچا او ملکه د سواس توپول څخه را رهي کړل. روسانو په جنګي بېړیو او ۳۸ دانو طیارو سره د ازمیر کښتۍ بدرګه کړله. که څه هم پاچا عسکري سړی وو خو ملکي لباس یې اغوستی وو. پاچا غنم رنګه، تور سترګی ښایسته سړی وو. ملکې د اروپایانو په رقم لباس کړی وو، ښایسته او بانزاکته وله. که څه هم د ملکې مور د شام وله، په ترکي ژبه پو هېدله؛ خپل مرام یې په ترکي ژبه ویلای سولای خو د ترکي پر ځای یې په پاړسي ژبه خبرو کولو ته ترجیح ورکوله. د سفر په جریان کښي پاچا او ملکې د ژورنالیستانو سره صمیمانه مجلس کوی او ډېر ډېر عکسونه یې اخیتسل. پاچا د ملکې په مقابل کي ډېر بانزاکته وو، د هغې لپاره یې ترجماني کوله. سفر مو ډېر په ساعتیري او خوښۍ سره تېر سو. کله چي باسفورس(ابنا) ته را نیژدې سولو؛ زموږ بحري قوه او طیارې د استقبال لپاره را ووتلې. د استانبول والی (محی الدین اوستون داغ) د بحري قواوو قومندان او امیرالان کښتۍ ته را وختل؛ پاچا او ملکې ته یې سلامي وکړله. د ابنا په غاړه کي قطار سویو خلګو دستملان ښورول او د مېلمنو استقبال یې کوی. کښتۍ د حیدربا پاشا و مخ ته لنګر واچوی. په خاصه رېل ګاډۍ کي سپاره سولو او د انقرې خوا ته مو حرکت وکړی.

امان الله خان چي انقرې ته راغلی؛ په بې مثاله مراسمو سره استقبال سو. هر لوری منظم سوی دی. اسمان او مځکه سره ښوري. اتاترک او پاچا داسي سره غاړه غړۍ سوي ول لکه د څلوېښتو کالو انډیوالان چي وي سره. دې کار خلګ بل رقم په جوش کي کړي ول. د ډېرو لږو دولتي خلګو لپاره برابرېدونکي داسي د زړه له کومي او د مینې څخه ډکو مراسمو امان الله خان هم متاثر کړی وو. د مراسمو، د عسکرو د تفتش او د خلګو تر سلامۍ وروسته امان الله خان په چانکایا کي د پاچا لپاره جلا کړل سوي ماڼۍ ته راوستل سو.

پاچا او ملکه یوه هفته په انقره کي و اوسېدل. پر ۲۷ د می بیا پاچا او ملکه د استقبال په شکل په هیبتناکو مراسمو د استانبول پر لوري رُخصت سول. پاچا مي داسي لیدلی وو چي د اتاترک سره ټینګ جوړ او ور ته حیران وو. اتاترک چي مړ سو که څه هم امان الله خان نور پاچا نه وو خو استانبول ته راغلی وو د (دولما باغچې) څخه تر (سیرکه جي) پوري د اتاترک د جنازې پسي په داسي حالت کي روان وو چي په سترګو کي یې اوښکي لغړېدلې. وروسته بیا په ایټالیا کي وفات سو.

د پاچا او ملکې د استانبول سیاحت هم په مراسمو سره تېر سو. د ښکلیو هنرنو د اکاډمۍ د سیاحت په جریان کښي په یو کاځای کي شاګردانو د ولاړي لڅي پڅي ښځي رسامي کوله. ملکې په دې سیاحت کي برخه نه وله اخیستې. پاچا لڅي پڅي ښځي ته هیڅ و نه کتل، سترګي یې لا ور وا نه ړولې.

افغان پاچا لوی اختر هم په استانبول کي تېر کړی وو. پاچا ته د ترابیا په (کوناک هوټل) کي د یو غرمې ډوډۍ ورکول سوله. د حُریت ابدیه پر غونډۍ د یو عسکري مُراسمو وروسته د ازمیر په کښتۍ کي د هغو مهماندارانو سره د باتوم پر لوري رهي سو چي پاچا یې راوستلی وو.

پاچا چي ولاړی یو شپه پر دسترخوان باندي اتاترک د سفر د جریان په هکله د جنرال فخرالدین نظر و غوښتی او ځیني و یې پوښتل چي (د پاچا په هکله څه فکر کوې؟) جنرال و ویل: ښه سړی مالومېږي. فقط اداري تجربه یې لکه چي لږ ده. پر ځان یې بېخي ډېر باور دی. د (پولادله) سره مې نیژدې و غوښتل چي زموږ د سکاریا د جنګ په هکله مالومات ورکړم، خو زما خبري یې وا نه ورېدلې د خپل استقلا د جنګ صفتونه یې را ته شروع کړل. داسي سړی را مالوم سو لکه په خپلو کړنو د خپل ځان صفت کوي. اتاترک چي دا واورېدل نو سر یې و ښوروی او ویې ویل: داغسي دي، داغسي دي.

ماخذ: د اتاترک د ناظر پټه کتابچه، جمال ګراندا، کېنت کتاب ۲۰۰۸، دوهم چاپ.
Atatürk’ün Uşağı'nın Gizli Defteri, Cemal Granda, Kentkitap 2008, 2. Baskı, ISBN: 978-9944-915-03-8. Sayfa:303-305

د عکس ماخذ:
ATATÜRK, T.C. Kültür Bakanlığı Yayınları. Hazırlayan; Mehmet Özel (Güzel Sanatlar Genel Müdürü), Sayfa: 149

مترجم: محب الرحمن محرابي

د مترجم یادونه:

لمړی: تاسو په پورتنۍ مقاله کی وینی چي غازي امان الله خان د هر نر پښتون په حیث یو لوڅي بېحیا ښځي ته سترګي هم نه دي ور اړولي، شاهد یې یو تُرکی دی. نو هغه خلګ ډېر احمقان دي چي غازي خپلي مېرمنی ته د اروپایي لباس په ور اغوستلو عیاش او د لاري وتلی بولي.
غازي امان الله خان یو نر افغان وو؛ هیڅکله عیاش او د لاري وتلی نه وو. په مساجدو کي یې شخصاً خپله خطبه ویله. د غازي امان الله خان د مېرمني اروپایي لباس اغوستل په دې مانا ول چي غازي سل کاله تر مخه د افغانانو لپاره د دنیا سره برابرېدل غوښتل. په هغه وخت کي د نن په څېر ټول مسلمانان د اروپا خوراک، پوښاک، اداري او تخنیک ته حیران ول. همدا وجه ول چي امان الله خان دا کارونه له خپله ځانه را پیل کړل. ښځو ته یې حقوق ورکړل، په افغانستان کي یې د مریانو ساتل بند کړل، د پلار مستبد او عیاش ژوند یې ور ختم کړی. د افغانستان د ترقۍ لپاره غازي امان الله خان د خپل خاندان تخت هم له لاسه ورکړی.
دوهم: په پورتنۍ مقاله کي د جنرال فخرالدین له خوا د غازي امان الله خان د اداري ظرفیت کمزوري بیان سوې ده. دا هم د یو نر پښتون خاصیت دی. پښتانه د عمرونو را هیسي بې اداري او بې نظمه خلګ دي؛ دا نښه یې به غازي امان الله خان کي هم لیدل سوې ده. پښتانه باید په خپل ټول توان سره د دې بدي او وژونکي

مریضۍ تداوي وکړي که نې د قیامت تر ورځې به یې هیڅ امان الله خان غوندي سړی روزي نه سي. نور ملتونه به پر مختګونه کوي؛ پښتانه به د هر عصر د کاروان څخه تر شا پاته وي.

د مقالې ماخذ:

http://www.isteataturk.com/eski/haber/870/afganistan-krali-amanullah-han-ile-24051928